دمقالی لیکونکی:   پیپی اسکوبار«Pepe Escobar».
منبع او خپریدو نیټه :   انفارمیشن کلیرنګ هوز «۲۰۱۴-۳-۲۱».
ژباړونکی :   پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل».

---

# چین ، کریمه او پښتونستا ن

## China ,Crimea And Pashtonistan

دواړه هیوادونه یعنی افغانستان او پاکستان دوخت په دی روان پړاو اوپه وروستنی زمان کی دورته مذهبی روا نا روا اودمذهبی قیوداتودرعایت کول سره لاس په ګریوان دجنجالونو اود شخړو په مینځ اومرکز کی پروت دی . پښتونستان هوکی پښتونستان هغه سیمه چی دافغانستان څخه بیل کړ شوی دی ، نو دهمدی موضوع په اړه پښتنوځرنګه سره دخپل دلاسه ورکړی ځمکی د بیا ترلاسه کیدو اودرانیولو خوبونه وینی تر څو چی په یو مشترک هیواد کی سره ژوند وکړی لکه هغسی چی کریمه له اوکراین څخه بیل او وروسته له یوی اوږدی مودی څخه بیرته دروسی سره ملحق شو ایا د پښتنو دغه خوب دعمل جامه به واغوندی ؟ اوپه دی اړه دچین اندیښنه او لړلید څه ډول دی ؟

اجازه راکړی چی خپل وړاند وینه او تحلیل له پاکستان څخه پیل کړو :
دامریکی دمتحده ایالاتو دضد شورش ماهرانو لکه بدبخت او خوارکی جنرال داوید پتریوس (Gen .David Petraeous) ، ګرو داوید کیلکولین ( Guru David Kilcullen) په دی باندی ټینګار کوی چی پاکستان پخپله د نسکوریدو اودتجزیه کیدو په مخه روان دي اودلته هیڅ دتعجب اود شک ځای نشته اوهغه داچي پاکستان لکه دیوبی واک چوپړ په څیرډداخلی اړودوړو اواخو ډب سره مخامخ دی اوپاکستانیان هڅه کوی چي ددی اړو دوړو څخه خپل هیواد را وباسی .

دابلکل روښانه اوڅرګند دي چي نواز شریف د پاکستان لمړی وزیر په دی هڅه اواند کی دي چي څرنګه کولای شی د خپل هیواد پاکستان د تجزیه کیدو مخه ونیسی نودهمدی اصل په نظر کی نیولو سره هغه غواړی چی د پاکستان دتحریک طالبان(TTP) اودپاکستانی طالبانو سره معامله اوروغه جوړه وکړی .
دنواز شریف ګوند (PML-N) دمذهبی له لحاظ یومحافظه کار اوداقتصادی

لړلید له پلوه یولیبرال حزب اوپارټی دي ، دبلی خوا څخه نواز شریف په دی ښه پو هیږی چی باید دپنجاب په سیمه کی دافراطی ډلو ټپلو سره په معامله کی له زغم څخه کار واځلی اوپه سیمه کی په ډیر احتیاط سره باید ګام اوچت کړي اوداځکه چی هلته زیاتنر شیعه مذهب جهادی خلکو ژوند کوی کوم چی د سپاه – ای- صاحبه ډلی ټپلی هلته زیات نفوذ او ساز وبرګ لری .
له سپاه – ای – صاحبه (sipah-e- sahaba) څخه بیل شوی ویری اچونکی ډلی ټپلی یعنی لشکر – ای- جنګاوی (Lashkar-e- jhangvi) په عادی بڼی سره هرورځ په سند اوبلوجستان کی شیعه مذهب مسلمانان وژنی ، نو ددی اصل په نظر کی نیولو سره نواز شریف غواړی چی په قبایلی سیمو کی د (TTP) اود پاکستانی طالبانود یوځای کیدو یا دایتلاف مخه ونیسی اوهم نه غواړی چی دغه ډلی ټپلی دپنجاب د جهادی ګروپونو سره نژدی شي .
له بلی خوا څخه لکه چی ټولو ته معلوم دی نواز شریف پخپله یوتجار پیشه او بیسنیس مین سړی دی او هغه ښه پو هیږی چی د پاکستان اقتصا د هغه وخت رغول کیږی چی د هیواد په دننه کی دداخلی جګړی مخه ونیول شی اوداپخپله د سولی درامینځته کیدو لمړنی ګام شمیرل کیږی داهغه څه دی چی دپاکستان اودنوازشریف کلیدی متحد او اوملګری هیوا چین اوچینایی کارپوهانو هغه ته کله چی نواز شریف په تیردوبی کی پیکنګ ته تللی وه هغو ورته دا مشوره ورکړچی باید دخپل زمامداری په وخت کی پورتنی ټکوته پوره پاملرنه وکړی .
تر دغه شیبی پوری لا دسولی دپروسی په جریان کی کوم ناوړی او کرغیړن موضوع لاره نه دی پرانیستلی چی دسولی موضوع په ټپه ودروی ، یواځی هغه څه چی دلته دهغه یادونه ضرور بریښی هغه د پاکستانی طالبا نو غوښتنه دی چی با ید دپاکستان دخاوری په ټولو برخوکی شریعت او د شریعت قوانین نافذ اوپکار ولویږی کوم چی دپاکستان حکومت دهغو دغه غوښتنه نه منی او دغه غوښتنه د دښمنانو غوښتنه بولی .
مینځګړی ګروپ یعنی ددواړو ښکیلو اړخو ترمیځ ګروپ خلکو چی دسولی درامینځته کیدو تعهد سره کړی دی دسولی دپلی کیدو ډیر زیات علاقمندان دی هغوی دخپل کار په جریان کی دپاکستان دحکومت په اړخ کی دیو متقاعد اوډیر بدنام ،مضر اوتجربه لرونکی جنرال سره مخامخ شو چی هغه جنرال

محمد امیر نومیده اودا هغه سړی وه کوم چی د (آی اس آي ) استخباراتی سازمان کی کارکول یعنی په اصطلاح سره پاکستا نی (سی آی ای) وه ،اما دبلی خوا څخه مونږدرحیم الله یوسفزی سره چي په پیښور کی ژوند کول هم لیدنه کتنه وکړ یوسفزی یعنی پاکستانی الاصل تکړه اوبی ساری ژور نالیست خپل لړ لید داسی وښود چی دپاکستان دسولی په مینځ راتلو کی یواځنی شخص یا سړی هرچیری چی وی هغه همغه کس دی کوم چی دپاکستان په قبایلی سیمه کی ژوند کوي .

دپاکستان د تحریک طالبان په اړخ مو یوه بله څیره وپیژندل هغه څیره چی دهغی په شان په سیمه اوپه طالبانوکی بل هیڅ یو څوک دومره واک اونفوذ نه لری اوهغه ملا سمیع الحق دی کوم چی د طالبانو هارورد « په اصلاح سره پوهنتون » پیښورته نژدی د اټک په اکوره کي رامینځ ته کړ یعنی د طالبانو پلار یا زیږونکی لکه چی هغه خپله داسی وایي (دادخدای مهربانی دی چی دغزنی په زندان کی طالبانو ځما هغه لیک چي په هغه کی ځما لاس لیک او ځما عکس یا تصویروه چاته ونه ښودل هغه وخت چی مونږهلته پر یو نظامی اډی باندی یرغل ویوړل ).

دپاکستان اردو اودهغه په سرکی نظامی جنرالان په هیڅ وجهه سره نه غواړی چی دسولی پروسه په بریالیتوب سره خپل پایلی ته ورسیږي ،اوبیا په ځانګړی بڼی سره دپاکستان استخباراتی شبکه «آی اس آی » کوم چي هغه دځنو جهادی ډلو تپلوسره چی داسلام آباد دستراتیژی د تحقق دپاره اوږه په اوږه د افغانستان اوهند پرضد په ډیره هوسا اوبی سروصدا سره اړیکی ساتلی او هغوی تر خپل حمایوی جتر لاندی راوستي مثلاْ دبیلګی په بڼه دافغانی طالبانو دمشر ملامحمد عمر کوم چی هغه دالقاعدی سره مستقیماْ اړیکی لری د هغه پټ خای په پاکستان کی چا ته نه افشا کوی او ښاغلی اوباما لاتراوسه ولی نشی کولای چی ددی تروریستی باند رهبران او مشران پیداکړی اوقانون ته وسپاری دپاکستان دغه استخباراتی شبکه او دپاکستان نظامیان دحقانی ګروپ اوپخپله دجلال الدین حقانی سره چی په وزیرستان کی میشته دی هم ډیر نژدی اړیکی لری اوله هغه څخه هراړخیز ملاتړ کوی .

اجازه راکړی چی بیرته پنجاب ته لاړ شو اودپاکستان ددغه جهنمی استخباراتی شبکی پټ اوښکاره دسیيی او توطیی بربنډ کړو : دغه شبکه دجهادیانو یوه

بله تروریستی ډلی ټپلی سره چی هغه د « دلشکر ای طیبه» په نوم سره یادیږی یعنی هغه ډله چی دپاکستان د «ای اس آي » په لمسون په کال «۲۰۰۸» په بمبی کی بمونه وچاودول او لس ګونو بیګناه هندویان یی په وینه کی ولړول .

اما دپاکستان د طالبانو تحریک (TTP) د نورو جهادی تروریستی ډلو ټپلو څخه ځنی متفاوت ځانګړتیاوی لری اودغه ځانګړتیا دادی چی دوی دپاکستان پر دولتی اونظامی مسولینو او مشرانو باندی وخت ناوخت حملی کوی اوهغوی له پښو څخه غورځوی ، اوپه دی بڼه دلته هیڅ دشک اود شبهی ځای نه پاتی کیږی چی د پاکستان اردو دغه ډلی خپل د ښمنان ونه شمیری ، اوداځکه چي دوی دخپل عملیاتی اوتروریستی فعالیتونو په سر کی دخارجی ( لکه هسی چی هغوی فکر کوی چی باید څوک له مینځه ویسی ) اتباعو دمینځه وړل او له پښو غورځول هم شامل دی .

دپاکستان دطالبانو تحریک دساختاری اوتشکیلاتی فورم له مخی ډیر یوپیچلی اود لاس وهنو یو غیر قابل نفوذ تحریک دی یعنی دا په دی مفهوم چی دغه تحریک دشمیر له مخی تقریباً (۳۰) مختلف ډلی ټپلی دی کوم چی دغه (۳۰) ډلی په کال ( ۲۰۰۷) کی دبیت الله مسعود سره قول اوقرار درلود یعنی دغه ګروپونه له یو سره دبیت الله مسعود سره تعهد کړی وه یادرلود . یعنی دهغه چا سره چی داوباما د بی پیلوته الوتکی به بمب ګذاری سره په کال (۲۰۰۹) کی هم دی اوهم حکیم الله ووژل شو، اما د تعجب خبره دادی چي (TTP ) یعنی دپاکستان دطالبانو تحریک لا ژوندی دی اود مسعود کورنی لا تراوسه ددغه تحریک مشرتوب کوی .

زه غواړم چی تاسو ته دمسعود کورنی ور وپیژنم : دغه قوم له یوسره سره پشتون ګوریلای ګروپونه دی چی دهغوی دهستوګنی ځای په قبایلی سیمه کی دافغانستان سرحد ته ډیر نژدی پروت دی دغه ګوریلای ګروپونه دپاکستان ددولت سره په مخالفت را ولاړ شوی ، ددو په نظر دلته په پاکستان کی د امریکی د «۹/۱۱» دپیښی څخه وروسته یوه ډله خاینن را پیدا شوی یا سره شتون لری چي د امریکایانوسره هراړخیز مرسته کوی اودهغومشران اوکشران دامریکی دمتحده ایالاتو سره په ګډه وژنی یعنی دپښتون قوم دکورنی سره کم ترکمه له یوی لسیزی څخه راپه دی خواپه جنګ جګړه سره اخته دی .

اما اوس حالات بل ډول سره تغیر خوړلی او هغه داچي د پاکستان د طالبانو د تحریک سرمشریزه اوس د ملا فیض الله په لاس کی دی ملا فیض الله کوم چی هغه له سوات څخه دی اودهغه دګروپونو اډی یا دعملیاتی فعالیتونو ساحه په فبایلی سیمه یعنی په مومندواوحتی دافغانستان په دننه کی د کنړ اودنورستان په ولایتونو کی دي ( یعنی په ډیر مصون اوپه امن سیمو او ځایونو کی ).

اوس ددی تحریک تم ځای یا اډه په وزیرستان کی نه دی ، دلته یوه بله موضوع کوم چی دانسان دحیرانتیا موجبات را برابروی هغه دا دی چی ددغه ګرویلای ګروپونو تم ځایونه یا پټ ځایونه په نیوادا کی (Nevada) د امریکی دمتحده ایالاتو د بی پیلوتوالوتکورهبری یا کانګسترانو ته پوره څرګند اومعلوم دی اما دهغو په مقابل کی لاتراوسه کوم بربنډ یرغل نه دی وروړلی .

دلته دپاکستان په دننه کی دپاکستان دطالبانو دتحریک دډلو ټپلو دیوځای کیدو دپاره ډیر زیات خبری اتری روانه دی حتی تر دی حده پوری چي دافغانی طالبانو مشر ملا محمد عمر ډیر په هڅه اواند کی دی چي که چیری وشی کړی چی د پاکستا نی طالبانو دتحریک غړی دی ته وهڅوی چی داسلام آیاد درهبرانو سره مرکی ته غاړه کیږدی ، دلته یو سوال را مینځته کیږی اوهغه داچی دا هلی ځلی یعنی د سولی دپروسی د بریالیتوب دپاره چی داسلام آباد اود تحریک طالبان تر مینځ سوله وشی دڅه دپاره دی ؟ ځواب ساده دی اوداځکه کله چي د (۲۰۱۴) کال په اخرکی دناتو قوتونه له افغانستان څخه پښي سپکی کړی اووځی نو وروسته له هغه به افغانی طالبان دکربښی یا دپولی له دواړوخواوڅخه به دپښتنو سره غونډی وکړی اوپرکابل باندی دننوتلو چمتوالی به ونیسی اوپه دی شان به د(۱۹۹۶) کال ناورین بیرته له سره به تکرار شی

ددی پورتنی تذکراتو څخه داسی را معلومیږی چی واشنګټن ته په وړاندیز بڼی سره داسلام آباد اود پاکستان د طالبانود سولی د پروسی سرته رسید و ډار اوخپګان راپیدا کړی اوهغه داچي که چیری دپاکستان دطالبانود تحریک او داسلام آباد ترمینځ سوله تامین شی نو په هغه صورت کی به په قبایلی سیمو کی دالقاعدی دجنګیالیود آزاد ننوتلو شرایط بیا به له سره مساعد شی کوم چی اوس دهغو ډیر لږ شمیر په دغه سیمه کی چیری ځان خوندی کړي دي اویا هریو دختیځ په لور تللی دی .

لا تر اوسه واشنګټن په دوامدار لوبی سره غواړی چی په پاکستان کی

دتوطیی دتیوری په پایله کی دپاکستان داړو دوړو په شرط بندی کی زر اویا وروسته د پاکستان پر اتومی سلاح باندی دکنترول لاس بری تر لاسه کړی کوم چی دغه مطلب د پاکستا ن استخباراتی شبکه (آی اس آي ) پخپل رڼو سترګو ګوری . او داچي د پاکستان د حکومت اود پاکستان د طالبانو دتحریک دسولی دپروسی په اړه واشنګټن څه لړلید لری یا دسولی پروسه دهغه تاید وړ دی اوکه نه ؟ بیل موضوع دی اما دبلی خوا څخه دامریکی دمتحده ایالتو د بی پیلوتو الوتکوجنګ په اوس وخت کی که زیات اویا کم دی بیل ځانګړی موضوع دی کوم چی واشنګټن دهغه دپریکړی واک لری.

کرزی بیا په قهراوغضب شوی :په افغانستان کی دجمهوری ریاست ټولټاکنی په راتکونکی میاشت کی پیل کیږي ،ټګماراودوکه بازحامد کرزی په دی هڅه اواند کی بخت دی چي د خپل خوښي سړی دافغانستان دجمهوری ریاست په چوکی کی کیښینوی کوم چی دغه سړی « زلمی رسول » نومیږی ، دبلی خوا څخه د افغانستان د داخله وزارت مخکینی وزیر اوبیا په پارلمان کی ریس اواوس د مارشال فهیم قسیم دځای ناستی په توګه نومول شوی چی د افغانستان دپارلمان څخه رای تر لاسه کړی اود کرزی دمرستیال په صفت دندی ترسره کړي .

قانونی لکه دفهیم په څیر دپنجشیر له ولایت څخه دی اوداحمدشاه مسعود دپنجشیر ځمری اوپه اصلاح سره ملی قهرمان کوم چی دالقاعدی د غړو په واسطه سره دامریکی دمتحده ایالاتو د «۹/۱۱» دپیښی د راپیښیدو څخه دوه ورځی وړاندی ترور شوسره ډیر نژدی اړیکی درلود ،قانونی دامریکی دمتحده ایالاتو پر افغانستان باندی په کال «۲۰۰۱» کی دهوای یرغل اویا دبمب اچولو مخالف وه اوپرحامد کرزی باندی په دی اړه هیڅکله له انتقادڅخه ډډه نه دی کړی .

دحامد کرزی د واک اودقدرت لمر ډیرروښان ځلیږی اوهغه داچی که هغه وشی کړلی چی دقانونی په نومولو سره ځان تاجکانو سره ونښلوی او په دی وجهه سره د عبدالله عبدالله کوم چی دامریکی د خوښی سړی دی د هغه دکاندیداتوری توازن اوقدرت ته صدمه ورسوی اوتر زیات اندازی پوری کمزوری کړی او دزلمی رسول د پاره دخوشحالتیا زمیه رامساعده کړی چی دهغه پلویان تاجکان اوپښتانه اووسی .

دیولړ وړاندیزونو څخه داسی راښکاری چی دافغانستان د جمهور ریاست ټولټاکنی دوم پړاړو ته ځی یعنی چی دټولټاکنو په دوهمه مرحله کی دافغانستان دپاره جمهور ریس انتخابیږی ، اووروسته بیا به وګورو چي د مجاهید ینو د کوم را وتلی یو قوماندان له اسماعیل خان څخه په هرات کی را نیولی بیا دقندهار ګل اغا شیرزی پوری په صحنه به راښکاره شي او دکرزی دمانورو دکوم یومانور په تحقق سره هغه څه چی هغه یعنی کرزی غواړی هغه تر لاسه کړي .

دواشنګتن له نظره زلمی رسول شاید چی دمنلو وړ وی ځکه چی هغه دامریکی سره تعهد کړی چی که چیری هغه دافغانستان د جمهوری ریاست په ټولټاکنو کی دافغانستان جمهورریس شی هغه به د امریکی اودافغانستان تر مینځ هغه ډیر ستونزمن سند چی دهغه په منلو سره دامریکی نظامی قوتونه ته به اجازه ورکوی چي په افغانستان کی پاتی شی لاس لیک کړي .

اویا داچی زلمی رسول وویل چی هغه به داسند هغه وخت لاس لیک کړی چی که جنګ سالارانو ته رشوت ورکړ شی ، رسول په دی هم پوهیږی چی که چیری هغه دواک څښتن شی دطالبانو څخه تر ستونی به راشی حتی که چیری هغه پښتون هم اووسیږی اویاداچی داسی تګماری ته لاس وروړی چي یوشی ووایی اوبل شی وکړي .

[حامد کرزی دافغانستان جمهور ریس /رویتر محمد اسماغیل ]

دلته په افغانستان اوپه پاکستان کی دسولی دوه موازی اوغبرګ پروسه روانه دي ، د دی سولی د ستونزی کلیدی اواصلی خنداو پرابلم دپاکستان په هیواد کی تم شوی او په دی وجهه سره پاکستان لوړپوړی چارواکی غواړی چی دپاکستان موجوده بی ثباطی او اړدوړ «هرج ومرج» افغانستان ته ور ولیږی یعنی هغوی غواړی چی دغه هرج ومرج په افغانستان ک ی پلی شي ، ترڅو چی افغانی طالبان دآزاد اولیبرال پاکستانی طالبانو په ګډ همکاری سره دکابل پر نوی راتلونکی حکومت باندی یرغل وکړی او له سره بیا واک تر لاسه کړی .

دپاکستان دطالبانو دتحریک جنګیالی اوجګړه مار دپاکستان داردو په مرسته سره همدا اوس دافغانستان اودپاکستان په ګډ سرحدی کرښه کی ځای پر ځای شوی او لا هڅه اواند روان دی چی دغه جګړه ماران دکنړ اود نورستان په

ولایتونو کی یعنی دافغانستان په دننه کی ځای پرځای کړی، داهغه مطلب دی کوم چی دافغانستان امنیتی اداره د پاکستان پردغه اقدام باندی نیوکی کوی اودپاکستان لاس دافغانستان په داخلی چارو کی زیدخل ګڼی .

دلته هیڅ دشک اودخطا ځای نشته او هغه داچی دافغانستان اود پاکستان ددوه سیالو اورقیبو هیوادونوتر مینځ دقهراودغضب اندازه دهرورځ په تیریدو سره لاپسی زیاتیږی،اودبلی خواخخه پاکستانیانوسره دااندیشنه ،هیله اوتفکر پیداشوی چی افغانستان نورهیڅ لاره بی ددیورنددکرښی درسمی پیژندلو څخه نه لری ، هغه کرښه کوم چی دبریتانیا امپراتوری سل کاله د مخه د پښتنو د ځمکی یا دهیواد ترمینځ راوکیښل او پښتا نه سره بیل کړ اودغه لانجه لا تر اوسه پخپل ځای کی باقی پاتی دی .

له سره دلته دپوښتنی ځای نه پاتی کیږی او هغه داچي دسرحدی کرښی (دیورند لین) په دواړه خواوکی پښتا نه په ډیر پراخه لړ لید سره د «کریمه » پیښی او موضوع ته پام اړولی څکه چی دکریمه پیښه دپښتنو دوطن دتجزیه کید و سره ډیر نژدی ورتوالی لری او لکه چی کریمه په پخوا زمانو کی له روسیی څخه بیل اوپه اوکراین پوری تړل شوی وه بیرته روسیی سره ملحق کیږی نو په دی بنیا د د کرښی په دواړه څواووکی پښتانه له کلونو کلونو دا آرمان اوهیلی لری چي بیرته له سره دپښتونستان په نامه سره یوځای شی اما دهغوی بنیادی ستونزه اوپرابلم دادی چي هغوی ددغه کرښی په دواړه اړخ کی په جګړه اووهلو ټکولو بخت دی اویا داچي دپردیو په لمسون جګړی ته ورلیږل کیږی ، نو که چیری دلته ددی قوم دپاره داستاذیتوب مثله په نظر کی ونیول شی نو په هغه صورت کی افغانی طالبانو نشی کولای چی د کرښی ددواړه خواو دټولوپښتنو استاذیتوب وکړی .

مونږ یواځی غواړو چي پیسی ولرو.

دچین اوسنی موقف اودریځ په دی اړین موضوع (ښورا) باندی لا یو څه ما لګی اومرچ زیاتوی اوهغه داچي پیکنګ دامریکی د متحده ایالاتو او د ناتو د نظامیانو اودسرتیرو کوم چی د(۲۰۱۴) کال په پای کی له افغانستان څخه وځی ترخپل لایزری کتنی لاندی اچولی یعنی له افغانستان څخه دباندنیو قوتونو دوتلو په اړه خپل پام زیات متمرکز کړی دی او دا په دی معنی چي دامریکی دمحده ایالاتو د امپراتوری یوه اډه «پایګاه » چي د چین پولی ته

نژدی پروت دی خپل کمپله تول کړی او چینایانو له دی ستونزی او پرابلم څخه کوم چی دهغو تول کړه وړه دامریکی ددی آډی تر څارنی لاندی نیول شوی خلاص او آزاد شي .

چین دیو ګټه راوړونکی (سودآور) افغانستان په طمعه او هیله کی ډوب دي کوم چی دچین دغه هیله دچین په غوښتنو په دی نژدی راتلونکی وختونو کی نه ترسره کیږی ، په هرصورت په کال (۲۰۰۸) کی دچینایی میتولورژیستانو ( دفلزاتو داستخراج کارشناسان ) یوګروپ د چین دجیانکسی دایالت دمسو یوه کمپنی دافغانستان دلوګر په ولایت کی دعینک دمسو معادن چی د نړی په سطح کی یو دمسو دلویو معادنو څخه شمیرل کیږی د (۳۰) کلنو دپاره په (۳) بیلیون دالر په اجاره نیول دی .

اماهغه پرابلم کوم چی اوس دچین ددی کمپنی دفعالیتونوپر مخ رامینځته شوی ، هغه دافغانی طالبانو یرغل اوتخریبی کړنی دی کوم چی دچینایی ماهرانو دپاره دمصونیت فضا ویجاړه کړی سره دهغه چي چینایی لوری هم د حامد کرزی دادارې سره ددی معادن د امن اودمصونیت درا مینځته کیدو دپاره سره په ګډه کار اوفعالیت کوي .

هغه ډیر پیچلی ستونزه اوپرابلم کوم چی په پیکنګ کی د چین د لوړ پوړو چاروا‌کو له خوا دافغانی طالبانود یرغل عامل پردغه معادن باندی پیژندل شوی هغه فکتور دادی چی دافغانی طالبانو د یرغل پلانونه دپاکستان د لوړ پوړو نظامیانو له طرفه چمتو کیږی یا جوړیږی اوبیا طالبانو هغه پلانونه عملی کوی . سربیره پرهغه دلته په پاکستان کی دچین دیغورانو (Uighurs) سره دپاکستان له طرفه یولړ مرستی دچین پرضد اوپه مخالفت ترسره کیږی یعنی دیغور محرکین اوتخریب کاران دپاکستان له طرفه روزل کیږی کوم چی هغو بیا دچین په خیانجنګ( Xinjiang) ایالت کی نارامی ته لمن وهی او دهغه ایالات حالات خړ پړ کوی ،نو په همدی بنیاد سره چینایانو د خپل پاکستانی نزدی متحد کړونو ته هک اوپک شوی چی دا څرنګه یو دوست دی چی ددغه مخربینو مخه نه نیسی او چین ته پرابلم جوړوی .

دپورتنیو څرګندونو په لړ کی وضع او حالت په سیمه اومنطقه کی لاپسی کړکیچن کیږی اوهغه داچي په نوموړی سیمه کي په ډیر چُپ اوچُوپتیا کی دچین د یغورانو (Uighurs) فعالین او محرکین دامریکی د متحده ایالاتو د

(CIA) دماهرانو په مرسته سره تجهیز ، تربیه او چین ته انفلتریت کیږی، کوم چی ددی ادعا ثبوت داسی په گوته کیږی مثلاً دبیلگی په بڼه : که تاسی دپاکستان د شما ل څخه دقراقروم د لوی لاری په موازی خط السیر سره خینجاینگ (Xinjiang) ته واوړی نوتاسی به په رڼو سترگو داسی امکاناتو ته پام واړل شی چي امریکایانو څنگه خپل جاسوسا ن په سیمه کی روزی اوبیا دمخبری دپاره په همدی لاره دچین هغه ایالات ته ورلیږی .

لاتراوسه په کافی اندازی سره انگیزی خپل کچی ته نه دی رسیدلی چی دپیکنگ اود اسلام آباد آړیکی خړ پړ اوپه ټپه ودروی ،دواړه هیوادونه په دی سره همغاړی اوموافق دی چی دامریکی اودناتو سرتیری باید له افغانستان څخه پښی سپکي کړي ، دواړه خوا دطالبانو په اړه په یوه ټکی سره اختلاف نظر لری او هغه داچی طالبانو دافغانستان دنوی دولت په اړه ( څرنگه موقف لری کوم چی دچین دپاره یووتلی پوښتنه دی )حال داچی دپاکستان دریځ په دی هکله دابهاماتو اودچلول سره یوځای دی او څوک نه پوهیږی چي داسلام آباد په دریځ کی به څه بدلون راشی اوکه نه ؟ داپخبله وخت غواړي چی وروسته به په داگه شي .

په هرصورت له هرجهته دواړه هیوادونه غواړی چی خپل تجارتی راکړی ورکړی ته لا پسی پراخوالی او وسعت ورکړی ، اودچین دپاره د گوادر بندر کوم چی خینیانگ (Xinjiang) ته نژدی بروت دی داسی یو تجارتی بندر دی چی دچین ټول ماالتجاره د همدی لاری دنړی نورو برخوته صادر کیږی اودچین دپاره ډیر یوه گټه راونکی بندر تلقی کیږی ، همدارنگه دواړه خوا په پریکړنی بڼی سره په دی موافق دی چی که چیری د کریمه پیشه او موضوع په موفقیت سره سرته ورسیږی لیری به نه وی چی د لته به د پښتنو د کربښی ددواړو خوا د یوځای کیدو انگیزه را ونه پاری اود پښتنو هیلی اود اوږدو کلنو رویا (خوبونه) دعمل جامه وانغوندی اوپه دی بڼه سره د فوتبال لوبه منطقه نارام اوبی ثباطه نکړی .

دمقالی دلیکونکی په اړه لنډیز: پیپ ایسکودور مقا له لیکونکی ، مفسر اود آسیا ټایم ، هانگ کانگ اود (RT)او (TomDispatch) دپاره تحلیل کونکی تکړه ژورنالست دی اوپه عین زمان کی دیولړ سایتونو ، رادیویی مجلی دپاره په متحده ایالاتو اوختیځی آسیا کی مقالی چمتو کوی . په درناوی